## We Care (مونږ اهمیت ورکوو) - د درملنې د بوديجې لاربښوونې

هغه ماشومان چې تشخیص شوي دي یا داسی ناروغۍ لري چې دوامداره درملنې ته اړتیا لري. د 12 میاشتو په موده کې د وړ معالج لخوا د درملنې یا ارزونې لپاره په تادیه کولو کې د مرستې لپاره $2,000 چمتو کوي.

### وړ درملنې په لاندې ډول دي:

- فزیوتراپي
- حرفوي درملنه
- د وینا درملنه
- هایدروتراپي
- ارواپوهنه
- د سپورت فزیولوژي

### وړتیا

- د 0 څخه تر 18 کلونو پورې ماشومان
- د NSW او ACT ټول اوسیدونکي کولای شي چې غوښتنه يې وکړي، د غیر اتباعو او لنډمهاله ویزو لرونکي / کډوالو په ګډون.

- تصدیق شوی رسمي تشخیص چې د ماشومانو د ډاکټر، ارواپوه ، یا اړونده روغتیایي مسلکي لخوا مستند شوی وي
یا
- د داسې حالت په اړه شکمن وی چې په احتمال يې دوامداره درملنې ته اړتیا لري مګر لاهم په رسمي ډول تشخیص شوی نه وي

- د NDIS (د ملي معلولیت بیمې سکیم) لپاره وړ نه وی
یا
- NDIS یې منل شوي وی، او داسې شرایط لري چې د درملنې لپاره مالي مرستې ته سمدستي اړتیا لري پداسې حال کې چې د NDIS پلان ته انتظار کوي

- د کورنۍ ټول ناخالص عاید يې په کال کې د 80,000 ډالرو څخه کم دی (د ماشوم ملاتړ، د پانګونې عاید، بهرنۍ عاید یا کوم بل عاید) په ګډون

### غوښتنلیک

- تمه کیږي چې غوښتنلیکونه ریښتیني او د حقیقت پر اساس ولاړ وي ، ټولې برخې یې بشپړې شوي وي او غوښتل شوي اسناد ورسره په ضمیمه کې وي
- د ماشوم په استازیتوب د مور او پلار / پالونکي یا د 18 کلونو څخه ډیر عمر لرونکي پېژندل شوي ملاتړکونکي لخوا ترتیب شوي وي
- *مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د غوښتنلیک فورمه آنلاین ده او په انګلیسي ژبه ده. که تاسو په انګلیسي ژبه کې د لوستلو او لیکلو لپاره مرستې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د ملاتړکونکي څخه مرسته وغواړئ لکه؛ طبي مسلکي شخص، د قضیې کارکوونکی، ښوونکی، معالج، د کورنۍ غړی یا ملګری.*

### اړین اسناد

لاندینې ضمیمې باید په غوښتنلیک کې شاملې شي

1. **د GP(عمومی معالج) یا د ماشومانو** د ډاکټر لخوا لاسلیک شوی لیک، د لیک پیل کی لیکل شوی وی:
   - د ماشوم تشخیص / حالت
   - غوښتل شوي درملنې ته راجع کول
   سند باید د غوښتنلیک څخه د دریو میاشتو په اوږدو کې نیټه ولري

2. **د کورنۍ عاید** - د هر مور او پلار / پالونکي لپاره چې د ماشوم لپاره مالي مسؤلیت لري باید د لاندې اسنادو څخه یو وسپاري:
- که د Centrelink تادیات ترلاسه کوي - خپل وروستي د Centrelink د عوایدو سټیټمنټ یا بیان چمتو کړي
- که چیرې مور او پلار کار کوي - 2 وروستي د معاشونه رسیدونه وړاندې کړئ چې کلني عاید ښیې
- که چیرې مور او پلار / پالونکی د Centrelink تادیات نه ترلاسه کوي او په کار هم نکوي - د تیرو 3 میاشتو بانکي سټیټمنټ (شرح) چمتو کړئ
- که مور او پلار خپل کار کوي - د تیرو دریو میاشتو بانکي شرح چمتو کړئ.

3. **NDIS**– که تاسو د NDIS لپاره غوښتنه کړې وي، مهرباني وکړئ خپل وروستي مکالمات اپلوډ کړئ.

## د نه منلو وړ غوښتنې

- د ماشومانو د ډاکټر یا بل طبي مسلکي کس لخوا د تشخیص د لګښت د تمویل غوښتنه
- د داسې درملنې غوښتنه چې په دې لاربښوود کې د وړ درملنې په توګه لیست شوې نده
- بیرته تمویل - یوازې هغه خدمتونه چې د مرستې له تصویب وروسته چمتو شوي وي وړ دي
- غوښتونکي په تیرو 12 میاشتو کې د We Care (مونږ اهمیت ورکوو) د درملنې د بودیجې لپاره غوښتنه کړې وي

## د بودیجې د غوښتنلیکونو تصویب

غوښتنلیکونه د Variety (ورایټي) بودیجو د کمیټې لخوا تصویب کیږي. د بریښنالیک له لارې خبرتیا کیدای شي تر 8 اونیو پورې وخت ونیسي.

## ناکام غوښتنلیکونه

- ناکام غوښتنلیکونه د مرستې د کمیټې په اختیار کې دي او په 12 میاشتو کې د بیا غوښتنلیک وړ دي

## بریالي غوښتنلیکونه

- د پایلو لیک د بریښنالیک له لارې لیږل کیږي چې د مرستې کارولو څرنګوالی په ګوته کوي.
- دا بودیجه د پایلو د لیک له نیټې څخه 12 میاشتې وروسته پای ته رسیږي

## د درملنې د خدماتو تادیه

- د درملنې چمتو کونکی باید د تصویب شوي توکي لپاره Variety ته د تادیې وړ مالیاتي رسید چمتو کړي
- Variety (ورایټي)NSW/ACT غوښتونکو ته په مستقیم ډول پیسې نه ورکوي
- دا د مور او پلار مسؤلیت دی چې د مالي رسیدونه آنلاین د Variety پورټل ته د تادیې لپاره اپلوډ کړي لکه څنګه چې د پایلو لیک کې لاربښودنه شوې ده
- هر ډول نا مصرف شوي پیسې به د مرستې له پای ته رسیدو وروسته ضبط شي

## نور معلومات

که تاسو نورو معلوماتو ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د ماشومانو د ملاتړ د ټیم سره اړیکه ونیسئ kidssupport@varietynsw.org.au